# د افغـــانستان اســـلامي امــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کيږي.

---

۲٦/ رجب المرجب/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۲۸/ دلو/۱۴۰۱هـ، ش

## د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د معراج واقعه

الحمد لله على نعمه التي لا تحصى والصلاة والسلام على سيدنا محمد الذي أسري به من المسجد الحرام الى المسجد الأقصى، و على آله وصحابته الى يوم الدين؛ أمابعد:

فقد قال الله سبحانه وتعالى في محكم كتابه بعد اعوذ بالله من الشيطان الرجيم: (سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ) الاسراء:(۱)

اسراء او معراج د قرآن کريم څخه وروسته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ستره معجزه ده چې د اسلام په تاريخ کې لوی ځای لري.

داسراء او معراج په مناسبت د رجب المرجب په (۲۷) اوه ويشتم تاريخ په اکثرو اسلامي هيوادونو کې رسمي رخصتي وي، چې سږکال د رجب المرجب (۲۷) تاريخ د راتلونکې شنبې ورځې سره برابره ده.

الله جل جلاله فرمايلي دي: (سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى- الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ) الاسراء:(۱)

ترجمه:- هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصی ته بوتلو هغه (مسجد اقصی) چې مونږ د هغه ګيرچاپيره برکت اچولی دی ددې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه ځينې وښايو ؛بيشکه هم هغه ښه اوريدونکی ښه ليدونکی دی.

د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د مکې مکرمې څخه تر بيت المقدس پورې تللو ته اسراء ويل کيږي يعنې د شپې سفر چې په قرآن کريم او په بې شميره صحيحو آحاديثو سره ثابت دي او ورڅخه انکار کفر دی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم تلل دبيت المقدس څخه آسمانو نو ته، دېته معراج ويل کيږي او دمعراج څخه انکار ګمراهي ده؛ ځکه چې معراج په صحيحو آحاديثو سره ثابت دی.

اسراء او معراج د بعثت څخه وروسته په دولسم کال د هجرت څخه يو کال وړاندې د رجب المرجب په (۲۷) شپه صورت نيولی دی.

محدثينو حضراتو د مختلفو روايتونو ذکر کولو څخه وروسته څه فيصله کن شی نه دی ليکلی او په عام طور سره مشهوره داده چې د رجب المرجب په اووه ويشتمه شپه، شپه دمعراج ده.[معارف القرآن]

په دې خبره د جمهورو علماوو اتفاق دی چې د رسول اکرم صلی الله صلی الله عليه وسلم اسراء او معراج جسماً او روحاً په ويښه په يوه شپه کې واقع شوی ده.

امام نووي رح په دې اړه وايې: اسراء او معراج د پيغمبرعليه السلام په جسم او روح سره په ويښه شوی دی ؛ځکه چې قريشو دا حالت ناشونې ګڼلو، که چيرې اسراء او معراج په خوب کې شوی وای نو دا حالت کفارو نا اشنا نه ګڼلو.[شرح النووی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د بعثت څخه وروسته په مکه مکرمه کې خلک د الله جل جلاله يووالي ته رابلل، پيغمبر عليه السلام وغوښتل چې د دعوت لپاره د مکې مکرمې څخه بيرون ووځي هماغه ؤ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم طائف ته ددعوت لپاره لاړ او په خپلو مبارکو پښو يې لری فاصله ووهله کله يې چې خلک د اسلام مقدس دين ته راوبلل د طائف خلکو يواځې دا نه چې دده دعوت يې ونه منلو؛ بلکې په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې يې ماشومان کړل او هغه مبارک يې په کاڼو  وويشتلو آن تردې چې د هغه پښې يېويني کړې، پيغمبرعليه السلام مکې مکرمې ته ډير غمجن راوګرځيد. دا هغه وخت دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ښځه خديجة الکبری هم وفات شوی وه او دده نيکه هم وفات شوی ؤ او ابوطالب هم وفات شوی ؤ چې ددوی غم يې هم په زړه پروت ؤ؛ الله جل جلاله وغوښتل چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د طائف سپکاوی په خوښی بدل کړي او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ددعوت په سلسله کې د حمايت او مصؤونيت پوره ډاډ ورکړي او ورته د زړه سکون ور په برخه کې، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې آسمانونو ته وغوښت او دا چې د دعوت بل پړاو شروع کيدونکی دی بايد چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغې په وړاندې غښتلی او پياوړی وي دې، د همدې وجی نه الله تعالی ورته د کائناتو نندارې ورته وروښودله(لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا) ترڅو عين اليقين ورته حاصل شي.

په حقيقت کې د معراج سفر د هغه سپکاوي په مقابل کې قدرداني وه چې کفارو د نبي عليه السلام په حق کې کړي ؤ، هغه څوک چې د طائف خلکو يې سپکاوی وکړ هغه شخصيت رب العالمين د آسمانونو دپاسه ميلمه کړ.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ).الاسراء:(۱)

ترجمه:-  هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصی ته بوتلو هغه (مسجد اقصی) چې مونږ د هغه ګيرچاپيره برکت اچولی دی ددې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه ځينې وښايو ؛بيشکه هم هغه ښه اوريدونکی ښه ليدونکی دی.

په يو بل آيت کې فرمايي:(لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى).النجم: (۱۸)

ترجمه:- يقيان يقينا ده د خپل رب ډيرې لوی نښې وليدلی.

لکه نن صبا چې په عالم اسباب کې انسانان د هوا د لارې څخه په کم وخت کې په لکونو مترو فاصلې وهي او د شرق څخه غرب ته ځي او په شرق کې خلک د هغو خلکو انځورونه ويني چې په غرب يا د نړۍ په کوم بل کونج اوسيږي؛ نو الله تعالى چې خالق د اسبابو دی؛ هغه ته ډيره آسانه ده چې خپل محبوب پيغمبر په يوه شپه کې معراج ته وغواړي.

## د معراج واقعې تفصيل:

په صحيحو آحاديثو کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به مکه مکرمه کې د شپې د ام هانیء کور کې تکيه وهلی وه چې ناڅاپه د کور چت سورى شو او جبرائيل عليه السلام ورڅخه رانښکته شو او نبي عليه السلام يې حطيم خواته يوړ او د نبي عليه السلام زړه مبارک يې راوويستلو او په زم زم اوبو يې پاک ووينځلو او بيرته يې په سينه کې ځای پرځای کړ او بيا يې د مسجد اقصى په لور په همدغه شپه روان کړ. په صحيح مسلم کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ أُتِيتُ بِالْبُرَاقِ وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيلٌ فَوْقَ الْحِمَارِ وَدُونَ الْبَغْلِ يَضَعُ حَافِرَهُ عِنْدَ مُنْتَهَى طَرْفِهِ قَالَ فَرَكِبْتُهُ حَتَّى أَتَيْتُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ الَّتِي يَرْبِطُ بِهِ الأَنْبِيَاءُ ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَصَلَّيْتُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلاَم بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ فَقَالَ جِبْرِيلُ - عليه السلام -: اخْتَرْتَ الْفِطْرَةَ قال ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِآدَمَ فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلاَم فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قال فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِابْنَيْ الْخَالَةِ عِيسَى- ابْنِ مَرْيَمَ وَيَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّا فَرَحَّبَا بِي وَدَعَوَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِنا إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِيُوسُفَ فَإِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ قال فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ فقِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قَالَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِدْرِيسَ فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ {وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا} ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الْخَامِسَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ قِيلَ مَنْ هَذَا فَقَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِهَارُونَ فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِمُوسَى فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عَرَجَ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ فَقِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيمَ مُسْنِدًا ظَهْرَهُ إِلَى الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ وَإِذَا هُوَ يَدْخُلُهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ لاَ يَعُودُونَ إِلَيْهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِي إِلَى السِّدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيَلَةِ وَإِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلاَلِ قَالَ فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ أَمْرِ اللَّهِ مَا غَشِيَ تَغَيَّرَتْ فَمَا أَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللَّهِ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَنْعَتَهَا مِنْ حُسْنِهَا فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيَّ مَا أَوْحَى فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلاَةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَنَزَلْتُ إِلَى مُوسَى - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ خَمْسِينَ صَلاَةً قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ يُطِيقُونَ ذَلِكَ فَإِنِّي قَدْ بَلَوْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَخَبَرْتُهُمْ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّي فَقُلْتُ يَا رَبِّ خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِي فَحَطَّ عَنِّي خَمْسًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقُلْتُ حَطَّ عَنِّي خَمْسًا قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لاَ يُطِيقُونَ ذَلِكَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ قَالَ فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّي وَبَيْنَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلاَم حَتَّى قَالَ يَا مُحَمَّدُ انَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلاَةٍ عَشْرٌ فَذَلِكَ خَمْسُونَ صَلاَةً وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ شَيْئًا فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ سَيِّئَةً وَاحِدَةً قَالَ فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى مُوسَى فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ). صحيح مسلم

ترجمه:- د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما مخې ته براق راوستی شو چې هغه سپین رنګ او ږد حیوان ؤ ، د خر نه دنګ او د قچر نه وړوکی ؤ خپله پښه یې په هغه ځای کې کیښوده کوم ځای پورې چې دده نظر رسیده - (نو په یوه لمحه کې د آسمان پورې تللی شو)، زه په هغه باندې سپور شوم او بیت المقدس ته ورغلم، هلته مې براق په هغه حلقې پورې وتړلو په کوم ځای کې چې نورو پیغمبرانو خپل حیوانات تړل، بیا زه مسجد ته دننه شوم او دوه رکعته لمونځ مې وکړ او د هغې نه پس بهر را ووتم، نو حضرت جبریل علیه السلام یو لوښي راوړ چې په هغه کې شراب ؤ او په بل لوښي کې شیدې ؤ ، ما شیدې غوره کړلی (یعنې ومې څښل)، نو جبرائیل علیه السلام راته وویل: تا دین غوره کړ، بیا جبرائیل علیه السلام له ماسره آسمان ته وختلو، جبرائیل علیه السلام د آسمان ددروازې د خلاصولو غوښتنه وکړه، ملائکو وویل: څوک دی؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل: زه جبرائیل یم. ملائکو وویل: له تاسره بل څوک دی؟ جبرائیل علیه السلام وویل: محمد-صلی الله علیه وسلم- دی. ملائکو وویل: آیا هغه غوښتل شوی دی ؟ جبرائیل علیه السلام وویل: هو! هغه غوښتل شوی دی.بیا دروازه مونږ ته برسیره کړی شوه.زه د حضرت آدم علیه السلام سره مخامخ شوم هغه ماته مرحبا او ستړی مشي وویله او دعاء یې راته وکړه. بیا جبرائیل علیه السلام زمونږ سره دویم آسمان ته وختلو جبرائیل علیه السلام ددروازې د خلاصولو غوښتنه وکړه، ملائکو وویل:څوک یې ؟ جبرائیل علیه السلام وویل: جبرائیل یم . ملائکو وویل: بل درسره څوک دي. هغه وویل: محمد-صلی الله علیه وسلم - دی، ملائکو وویل: آیا هغه غوښتل شوی دی؟ جبرائیل السلام وویل: هو! هغه غوښتل شوی دی. بیا مونږ ته دروازه برسیره کړی شوه چې داخل شو د ترور ځامنو عیسی ابن مریم او یحیی بن زکریا سره مخامخ شوم ماته یې ستړی مشي- او مرحبا وویله او دواړو راته دعاء هم وکړه. بیا جبرائیل علیه السلام زمونږ سره دریم آسمان ته وختلو او جبرائیل علیه السلام د دروازې د برسیره کولو غوښتنه یې وکړه، ورته وویل شو څوک یې؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل: جبرائیل یم، ورته وویل شو چې څوک درسره دي؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل: محمد -صلی الله علیه وسلم - راسره دی، ملائکو وویل: آیا هغه راغوښتل شوی دی؟ جبرائیل علیه السلام ووویل: هو ! راغوښتل شوی دی.بیا مونږ ته دروازه برسیره کړی شوه زه د یوسف علیه السلام سره مخ شوم ومې لیدل چې هغه ته ددنیا نیم ښایست ورکړل شوی ؤ ، ما ته یې ستړی مشي وویل او ماته یې دخیر دعاء وکړه.بیا جبرائیل علیه السلام مونږه څلورم آسمان ته وخیژولو ، جبرائیل علیه السلام ددراوزې د خلاصولو غوښتنه وکړه ورته وویل شو چې څوک یې ؟ هغه وویل: جبرائیل یم. ورته وویل شو څوک درسره دي؟ هغه وویل: محمد-صلی الله علیه وسلم راسره دی. ورته وویل شو آیا هغه ته پیغام لیږدولی شوی دی؟ هغه ورته وویل: بلی! هغه ته پیغام لیږدول شوی دی . بیا مونږ ته دروازه برسیره کړی شوه هلته مې ادریس علیه السلام سره مخ شوم هغه ماته ستړی مشي او مرحبا وویله او ماته یې د خیر دعاء وکړه، الله تعالی فرمایلي دي {وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا} او مونږه اوچت کړ ادریس علیه السلام په لوړ مقام باندې( نو د لوړ مقام نه دغه څلورم آسمان مراد دی). بیا جبرائیل علیه السلام مونږه پنځم آسمان ته وخیژولو، جبرائیل علیه السلام ددراوزې د خلاصولو غوښتنه وکړه ورته وویل شو چې څوک یې ؟ هغه وویل: جبرائیل یم. ورته وویل شو څوک درسره دي؟ هغه وویل: محمد-صلی الله علیه وسلم راسره دی. ورته وویل شو آیا هغه ته پیغام لیږدولی شوی دی؟ هغه ورته وویل: بلی! هغه ته پیغام لیږدول شوی دی . بیا مونږ ته دروازه برسیره کړی شوه؛ هلته زه د هارون علیه السلام سره مخ شوم ؛ هغه راته ستړي مشي او مرحبا وویله او دخیر دعاء یې راته وکړه. بیا جبرائیل علیه السلام مونږه شپږم آسمان ته وخیژولو، جبرائیل علیه السلام ددراوزې د خلاصولو غوښتنه وکړه ورته وویل شو دا څوک دی ؟ هغه وویل: جبرائیل یم. ورته وویل شو څوک درسره دي؟ هغه وویل: محمد-صلی الله علیه وسلم راسره دی. ورته وویل شو آیا هغه ته پیغام لیږدولی شوی دی؟ هغه ورته وویل: هو! هغه ته پیغام لیږدول شوی دی . بیا مونږ ته

دروازه برسيره کړی شوه؛ هلته زه د موسی علیه السلام سره مخ شوم ؛ هغه راتـه سـترې مشيـ او مرحبا وويله او دخير دعاء يې راته وکړه.بيا جبرائيل علیه السلام مونږه شپږم آسمان تـه وخيژولو، جبرائيـل عليـه السلام ددراوزې د خلاصولو غوښتنه وکړه ورته وويل شو دا څوک دی ؟ هغه وويل: جبرائيل يم. ورته وويـل شو څـوک درسره دي؟ هغه وويـل: محمد- صلی الله علیه وسلم راسره دی. ورته وويل شو آيا هغه ته پيغام ليږدولی شوی دی؟ هغه ورتـه وويـل: هـو! هغـه تـه پيغام ليږدول شوی دی . بيا مونږ ته دروازه برسيره کړی شوه؛ هلته زه د ابراهيم عليه السلام سره مخ شوم پـه داسـې حال کې چې هغه ډډه لږولی وه بيت المعمور ته او بيت المعمور ته هـره ورځ اويـا زره پرښـتې داخليـدی چې بيا بـه ورتـه نـه راتللی، بياجبرائيل علیه السلام زه سدرة المنتهی ته بوتللم ومې ليدل چې د هغې پـاڼې داسـې وی لکـه د فيـل غوږونـه او ميـوې يـې داسې غټې وی لکه چاټې (د اوبـو منګی)، هـر کلـه بـه چې دغـه ونـه داللـه پـه امـر سره پټـه کـړی شـوه تغير بـه پـه کـې راغی(ښاسته به شوه ) چې مخلوق نشي کولای چې د هغې ښايست بيان کړي، بيا الله تعالی ماتـه وحـی وکـړه د هغـه څه چې الله تعالی يې وحيه کوله، هر کله چه زه د هغه ځای نه راښکته شوم موسـی علیـه السلام تـه راغلـم ماتـه موسـی علیـه السلام وويل چې څه فرض کړل رب ستا، په امت ستا باندې؟ ما ورته وويل: پنځـوس لمونځونـه. موسـی علیـه السلام راتـه وويل: وګرځه او دخپل رب څخه د تخفيف سوال وکړه ؛ځکه ستا امت دپنځوسو لمونځونو توان نلري، بيشکه مـا بنـي اسرائيـل ازمايلي دي او د هغوی امتحان مې اخيستی دی. پيغمبرعليه السلام وويل: زه واپس لاړم خپل رب ته او عـرض مـې وکـړ چې ای ربه زما! زما په امت باندې اساني راوله نو الله جل جلاله پنځه لمونځونه را څخه کم کړل. زه بيا واپس د موسی عليه السلام خواته راغلم او ورته مې وويل چې پنځه لمونځونه راته الله تعالی معاف کړل، موسی علیـه السلام راتـه وويـل: سـتا امـت ددې توان نلري وګرځه خپل ربه ته او دتخفيف سوال وکړه، نبي علیه السلام فرمايې زه ترهغې پورې داللـه تعـالی او د موسـی علیـه السلام ترمنځ تلم راتللم تر دې پورې چې الله تعالی راته وفرمايل: ای محمده! دا پنځه لمونځونه دي پـه يـوه ورځ او يـوه شـپه کې او د هر لمانځه ثواب يو په لس دی چې دا ټول پنځوس لمونځونه کيږي، (يعنې د پنځو لمونځونو ثواب د پنځوسـو لمونځونـو په اندازه دی) او څوک چې ديوې نيکۍ قصد وکړي او هغه نيکي ونه کړي ددې به هم دهغې يوې نيکۍ اجر هم ليکل کيږي او که چيرې هغه نيکي وکړي د لسو نيکيو اجر به ورته ورکول کيږي او څوک چې د بدۍ اراده وکړي او هغـه بـدي ونـه کـړي څه ورته نه ليکل کيږي او که څوک هغه يوه بدي وکړي يواځې د يوی بدۍ ګناه به ورته ليکل کيږي. پيغمبر علیه السلام فرمـايې چې بيا زه ښکته شوم او د موسی علیه السلام خواته راغلم ، موسی علیه السلام راته وويل: واپس لاړشه او د تخفيـف سـوال وکړه ، ورته وويل: زه خپل رب ته دومره زيات بيا بيا ورغلم چې نور ماته د بيا ورتللو څخه حياء راځي.

دامام بخاري په روايت کې راځي: (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صلی الله علیه وسلم - قَالَ فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ-علیه السلام- فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ) صحيح البخاري

ترجمه:- دانس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې ابوذر رضي الله عنـه حديث بيـانوي چې نبي علیـه السلام وفرمايل: زما د کور چت لوڅ کړی شو او زه په مکه مکرمه کې وم او جبرائيل عليه السلام ورڅخه راښکته شو او زما سينه يې خلاصه کړه بيايې د زم زم په اوبو ووينځله بيايې يو طشت د سرو زرو راوړلو په داسې حال کې چې د حکمت او ايمان څخه ډک ؤ هغه يې زما په سينه کې خالي کړ او بيايې زما سينه بنده کړه.

د ابن ماجه په روايت کې راځي: (أَتَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي عَلَى قَوْمٍ بُطُونُهُمْ كَالْبُيُوتِ ، فِيهَا الْحَيَّاتُ تُرَى مِنْ خَارِجِ بُطُونِهِمْ ، فَقُلْتُ : مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرَائِيلُ ؟ قَالَ : هَؤُلَاءِ أَكَلَةُ الرِّبَا.). سنن ابن ماجة

ترجمه:- د اسراء په شپه داسې خلک مې ولیدل چې دهغوی خیټې دومره غټې وې لکه کورونه چې په خیټو کې یې ماران پراته ؤ ښکاره کیدل له بیرون څخه . ماجبرائیل علیه السلام ته وویل: داڅوک دی ای جبرائیله! هغه راته وویل: دا سود خوړونکي دي.
دمعراج په سفر کې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته جنت او دوزخ هم وربښودل شوي ؤ.په یو حدیث شریف کې راځي:( لَمَّا أُسْرِيَ بِي مَرَرْتُ بِرِجَالٍ تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنْ نَارٍ قَالَ: فَقُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: هَؤُلَاءِ خُطَبَاءُ مِنْ أُمَّتِكَ يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ).مسند أحمد
ترجمه:- د اسراء په شپه کې په داسې سړیو باندې تیر شوم چې د هغوی شونډې د اور په قینچې ګانو پریکول کیدلی. ما وویل دا څوک دي ای جبرائیله؟ راته یې وویل: دا ستا دامت خطیبان دي، چې خلکو ته به یې په نیکۍ امر کولو او خپل ځانونه به یې هیرول.

د معراج په شپه پیغمبر علیه السلام جبرائیل علیه السلام لیدلی دی چې د هغه شپږ سوه وزرونه لرل.

امام مسلم رحمه الله ددې آیت لاندې (لقد رأى من آيات ربه الكبرى) وایې چې چې عبدالله ابن مسعود ددې په تفسیر کې وایې: (قال رأى جبريل في صورته له ستمائة جناح). صحیح مسلم -

ترجمه:- نبي علیه السلام جبریل د معراج په شپه ولیده چې د هغه شپږ سوه وزرونه ؤ.

په یو روایت کې راځي عبدالله ابن عباس رضي الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په کومه شپه چې زما سفر وشو او صبا شو زه خپل دې حالت ته وارخطا وم او پوهیدم چې خلک به مې په دې خبره درواغجن وبولي ، د خلکو نه جدا غمجن کیناستم، دالله تعالی دشمن ابو جهل تیریده او راغی زما خواته او د مسخرو په ډول یې وویل: آیا کومه خبره شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: هو! هغه وویل: څه خبره ده؟ پیغمبرعلیه وسلم ورته وویل: تیره شپه زه په سفر بیول شوی وم . هغه وویل: چیرته؟ نبي علیه السلام ورته وویل: بیت المقدس ته . هغه وویل : بیا دې زمونږ په مخ کې صبا کړ؟.(یعنې تا دلته زمونږ سره شپه صبا کړه).ابوجهل وویل: که چیرې زه ستا قوم راوغواړم ته به ورته داخبره وکړې؟ نبی علیه السلام وویل: بلی! زه ورته داخبره کوم .ابوجهل وویل: راشئ ای دکعب بن لؤی خلکو ! مجلسونه ورته راوښوریدل، خلک دی دواړو ته راغلل او کیناستل. ابوجهل وویل: هغه خبره خپل قوم ته وکړه کومه چې دې ماته کړې ده. نبي علیه السلام وفرمایل: زه تیره شپه په سفر بیول شوی وم. هغوی وویل: چیرته؟ نبی علیه السلام ورته وویل: بیت المقدس ته.هغوی وویل: بیادې زمونږ په مخ کې صباکړ؟(یعنې زمونږ سره دې په مکه کې شپه صبا کړه) . نبي علیه السلام وویل: هو ! په دې وخت کې ځینو لاسونه سره وپړقول او ځینو خپل لاسونه په سرونو باندې کیښودل دتعجب له امله چې ده باندې یې د درواغو ګمان کړی ؤ.بیا هغوی وویل: آیا ته کولی شې چې مونږ ته د بیت المقدس مسجد نښې بیان کړئ او په دې ډله کې داسې کسان ؤ چې بیت المقدس ته یې سفر کړی ؤ او د قدس مسجد یې لیدلی ؤ.رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د قدس مسجد نښو بیانول پیل کړ ل، ما بیانول هغه نښې د قدس مسجدچې په دې وخت کې د مسجد چې ماباندې ځینې نښې ګډوډې شوی، نبي علیه السلام فرمایې چې ماته د قدس مسجد راوړل شو آن تردې چې د عقال او یا عقیل د کور خوا ته

نږدې راوړل شو ما ورته کتل او د مسجد نښې مې بیانولی، سره ددې هم ځینې نښې ماته معلومې نه وې . دی قوم وویل: بیشکه نښې خو یې درستې وویلی. [مسند احمد، مسندالبزار]

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسراء او معراج معجزه د مکې خلکو ته بیان کړه دوی په خپلو منځو کې وویل:

(فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: انْظُرُوا إِلَى أَبِي كَبْشَةَ يَزْعُمُ أَنَّهُ أَتَى بَيْتَ الْمَقْدِسِ اللَّيْلَةَ، قَالَ: نَعَمْ وَقَدْ مَرَرْتُ بِعِيرٍ لَكُمْ بِمَوْضِعِ كَذَا وَكَذَا، قَدْ أَضَلُّوا بَعِيراً لَهُمْ بِمَكَانِ كَذَا وَكَذَا، ثُمَّ يَأْتُونَكُمْ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا يَقْدُمُهُمْ جَمَلٌ أَدَمٌ، عَلَيْهِ مَسْحٌ أَسْوَدُ وَغِرَارَتَانِ سَوْدَاوَانِ "، فَلَمَّا كَانَ ذَلِكَ الْيَوْمُ أَشْرَفَ النَّاسُ يَنْظُرُونَ، حَتَّى كَانَ قَرِيبًا مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ حَتَّى أَقْبَلَتِ الْعِيرُ، يَقْدُمُهُمْ ذَلِكَ الْجَمَلُ كَالَّذِي وَصَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) مسند البزار

ترجمه:- مشرکینو وویل وګوره ابو کبشه ته وایې چې زه تیره شپه بیت المقدس ته تللی وم. پیغمبرعلیه السلام ورته وویل: بلی زه ستاسو په قافله هم تیرشوم چې په فلاني او فلاني ځای کې وه ، له دوی څخه اوښ ورک شوی ؤ په فلاني ځای کې. تاسو ته به قافله راشي په فلانی ورځ کې چې هغه سپین اوښ به ورڅخه مخکې وي، په هغه باندې

تور څادر وي او دوه تور جوالونه وي، کله چې هغه ورځ شوه خلک لوړو ځایونو ته وختل او قافله یې کتله آن دا چې نیمه ورځ شوه ناڅاپه قافله راغله او هغه اوښ ورڅخه مخکې ؤ چې نبي علیه السلام یې نښې ویلی وی.

د اهل مکه څخه یو کس چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه ؤ چې پرته له چون وچرا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو خبرو کې ریښتونی وبللو. کله چې هغه  ته وویل شو چې :(إن محمدا يزعم أنه بلغ بيت  المقدس ورجع)محمد -صلی الله علیه وسلم- وایې چې هغه بیت المقدس ته تللی ؤ او بیرته راغللو . ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته وفرمایل: هرکله مونږ هغه د وحیې په نزول کې صادق ګڼو نو په دې خبره کې هم صادق دی، همغه ؤ چې نبي علیه السلام د ابوبکر لقب صدیق کیښود.

د معراج په واقعه کې درسونه او عبرتونه:

۱.د معراج واقعه د سختیو  او غمونو معاوضه او نیکه بدله وه چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړه.

۲.معراج تعزیه او تسلي وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ؛ پس د خدیجې رضي الله عنها او د پیغمبر علیه اسلام د نیکه د وفات څخه.

۳. په معراج کې د اهل مکه ؤ امتحانول ؤ چې ایا دوی ددې معجزې باوجود ایمان راوړي او که نه.

٤. د نبي علیه السلام د نبوت او پیغمبری اثبات او دهغه د ریښتینولی ثابتول.

٥. د مسجد اقصی مقام او مرتبه، ددې واقعې څخه  د مسجد الحرام او مسجد اقصی ترمنځ تړون معلومیږي.

٦. د رسول الله نورو انبیاوو ته امامت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په فضیلت او برتری دلالت کوي.

۷. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د تواضع اثبات سره ددې چې الله تعالی ده ته دومره مرتبه ورکړه چې سدرة المنتهی ته یې وغوښت.

۸. د لمونځونو اهمیت ؛ ځکه چې الله تعالی پیغمبرعلیه السلام ته پنځه وخته لمونځ په تحفه او ډالۍ کې ورکړل.

۹. ټولو پیغمبرانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ښه راغلاست وویلو او ورته یې دعا وکړه.

۱۰. رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې لپاره دمعراج سفر وکړ ترڅو هغه څه چې ده وربانديې په غیبو درلود په خپلو سترګو ووینې او دالله تعالی د قدرتونو نښې له نږدې مشاهده کړي.